مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر یارمحمد تره کی

۲۰۲۰/۱۱/۱۰

# د افغانستان ټولنیز- اقتصادی حالت

## او د ځینو مخورو ټیټه ارزونه

په دی وروستیو میاشتو کښی د افغانستان په ښارونو او کلیو کښی ژور اقتصادی، سیاسی او ټولنیز بدلونونه را روان دی. ددغو بدلونونو د راتګ ابتدایی شرایط کلونه وړاندی د امریکا د نظامی یرغل په ترڅ کښی مینځ ته راغلل. په لمړی سر کښی د څو میلیاردو ډالرو په ویشلو سره د هیواد په اقتصاد ی مارکیټ کښی لنډ مهاله خوځښت را غی او کاره امیدونه یی را مینځ ته کړل. ډیر ژر دا جوته شوه چی دغه امیدونه هغه انځور ته ورته دی چی په اوبو کښی یی مونږ ګورو. د یوی وړی څپی په تیریدو سره تصویر نور هم کوږ شی او خپل اصلیت له لاسه ورکړی. د تیرو شلو کلونو اقتصادی معجزه کاذب امیدونه او غوښتنی را مینځ ته کړی. افراط او تفریط یی نوی سطحی ته ورساوو.

د غربت او بډایتوب تر مینځ یی واټن نور هم ډیر کړ. په پای کښی دغه د اوبو پر سر حباب وچوید او دادی په ډیر لږ وخت کښي یی په ټولنه کښی ستر انسانی او ټولنیز ناورین را وزیږاوو. دغه ټولنیز ناتار پر هغه امنیتی، او سیاسی بوج باندی یوه لوټه اضافه وزن دی چی د خلکو پر اوږو ور کیښودل شو.

د اوسنی اقتصادی کړکیچ او د نقلی اقتصاد پر څرنګوالی باید ډیری کره او علمی لیکنی وشی چی ددی څو کرښو تر حوصلی ور ها خوا دی. دلته زه غواړم پر یوی داسی مسلی بحث وکړم چی دا څو میاشتی می ځوروی.

ډیرو ته جوته ده چی په افغانستان کښي ځینی خلک ځانونو ته عالمان، متفکرین، متخصصین او لیکوالان وایی. چي څلور پنځه ټولګی یی لوستی وی نو هغوی کارپوه وی. چي دوه سمستره یی په انجنیری پوهنځی کښی لوستی وی نو هغه د انجنیری دعوا لری او چی یو سمستر پی.سی.بی یی لوستی وی نو هغه ځان ته ډاکتر وایی. زه په دی پسی نه ګرځم چی نقلی متخصصینو څومره د نظام تانګونه سست کړل او څومره یی د چارواکو په سترګو کښی خاوری ور وشیندلی. زه پر دی خبری کوم چی ځینی مخور او په اصطلاح پوه خلک ددی ستری انسانی تراژیدی او د خلکو د خواری او مظلومیت په باب د ډیر ټیټ انداز تبصری او نظرونه ورکړی دی چی په ربښتیا د پوه عالم پر بدن ویښتان ور دروی.

دا دی مثالونه:

یو مخور او مشر وایی چی خلک دی د تداوی لپاره پاکستان ته نه ځی او د خپل غیرت او عزت لپاره دی دلته مړه شی.

بیا وایی چی په کتارونو کښی مخکی خلک په نظم دریدلو او خپلی ښځی یی په کتار کښی نه درولی. ټولنیز اخلاق لا ژوندي ول"

بل سیاسی مشر بیا داسی کره کتنه کوی" که څوک هېواد ته راستنیږي را دې شي، که څوک نه راستنیږي د افغانستان حکومت یې پر وړاند ی باید هېڅ ډول مسوولیت و نه مني. دا مشر بیا وایی " د ناروغۍ له پاره بهر ته تګ باید هر کال څو زرو هغو محدودو کسانو لپاره ممکن وي چې د افغان دولت له خوا دا تصدیق ولري چې د ناروغۍ علاج یې په افغانستان کې دننه مطلق ناشونی دی". بله خبره چی زماسر یی را په درد کړ داسی ده " د سیاحت له پاره بهر ته تګ باید د یو مناسب ټکس د ورکړې تابع ش.".

یو بل مخور او په اصطلاح متفکر بیا داسی وایی " په ا فغانستان کښی د کلی او ښار فرق له مینځه تللی دی اواوس په کلی کښی شمسی شته او خلک د ژوند ټول سهولتونه لری."

بل بیا وایی چی انسانیت د ټولنی منتها درجه اخلاقیات دی او په اقتصاد او مړه ګیډه هیڅ تړاو نلری. ددی مشر په نظر انسانیت دی چی هر څه ټاکی. "



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په پانګووالی نظام کښی نه یوازی د ټولنیز پر مختګ اصلی لاملونه او ریښی په بربنډه توګه نه ښودل کیږی بلکه پوهه او معلوماتو ته لاسرسی یوازی د محدودو کسانو په لاس کښی وی. په بل عبارت علم د متاع (Commodity) په توګه معرفی کیږی. ددی په نتیجه کښی یواز ی یو اقلیت د علم او پوهی د زیرمو څخه ګټه اخیستی شی. د فلسفی او علمی اپیپستمولوژی (Epistemology) چلونه او میتودونه یوازی د څو محدودو په لاس کښی وی. په دی صورت کښی د ټولنیزی روڼتیا او ټولنیز پرمختګ پوهاوی د هغو کسانو کار دی چی خپل ځانونه د علم، اخلاقو او مدنی وجدان مبصرین ګڼی.
کله چی یو مخور وایی چی پاکستان ته د تداوی لپاره باید څوک ولاړ نشی ځکه هغه بی عزتی ده ، دغه پوه دا نه وایی چی ددغه بی عزتی لاملونه څه دی؟ ولی خلک د خپل کور او کلی نه په زرګونو کیلو متره واټن وهی او خپلی زیرمی مصرفوی تر څود علاج لپاره یو بل ملک ته ولاړ شی؟ دغه مشران ولی دا نه وایی چی د ټولنیز نظم او لوړ کلتور بنسټ د څه شی نه جو شوی دی؟ ولی ځینی خلک لوړ کلتور لری او ځینی خلک دومره د کلتور او آدابو مراعات نه کوی. په دی کښی د اقتصاد، زبیښاک او منابعو ته د لاسرسی مسله په کوم ځای کښی ده؟ هغه مشر چی ادعا کوی بهر ته د خلکو تګ دی محدود کړای شی او یا دی مالیه ور باندی ولګول شی دی پوښتنی ته ځواب نه ورکوی چی خلک په کومو موخو بهر ته ځی؟ که قانون هر انسان ته دا حق ورکوی چی په خپله خوښه او یا د مجبوریت له مخی سفر وکړی او ددی حق لری نو بیا دا محدودیت د څه لپاره پکار دی؟ ولی باید یو دولت د خپلو اتباعو حقوقی مسولیت و نه منی؟ که یو هیواد وال د کابل نه اسلام آباد او یا استانبول ته ولاړ شی آیا د افغانستان ددولت مسولیت ددی کس په باب له مینځه ځی؟
مونږ په ډیره کړکیچنه او پیچلی ټولنی کښی ژوند کوو. د ډیرو لپاره برسیرنی ټولنیزی اړیکی د ټولنیزی او اقتصادی ودی سره ډیر لږ د انډول وړ دی. ځینی داسی فکر کوی چی که یوڅوک غریب هم وی او ډوډی هم ونلری نو باید ستر اخلاق ولری، انسانی کرامت باندی پوه وی او ټول مدنی، اخلاق او قانونی اصول مراعات کړی. د یوه بل مخور په انداز انسانیت د هر څه بنسټ دی، خو دغه نه په ګوته کوی چی انسانیت د څه شی پر بنسټ او د کومو ټولنیزو اړیکو په نتیجه کښی مینځ ته راځی. د انسانیت اصول او شاخصونه څه دی. آیا اقتصاد ی وده او د مختلفو ټولنوپرمختګ د دغو ټولنو پر انسانیت او انسانی سلوک اثر اچوی؟ تو که یی اچوی دغه اړیکی څرنګه اندازه کیږی؟ دا ډیری مهمی پوښتنی دی چی باید د مخورو څخه وشی. کله چی دوی پاپولیستی لیکنی کوی او د هیواد د ځوانانو او مشرانو زړونو ته لاس وراچوی، نو یوه اخلاقی پوښتنه د ځان څخه کوی چی باید ددغو ښکلو او په تن نازکو الفاظو دیالکتیک (Dialectic) و څیړی؟
زه هیڅ کله ددی سره موافق نه یم اخلاق په خپل سر مینځ ته راغلی دی او انسانی شعور باید په هر حالت کښي موجود وی. څوک د تداوی لپاره پاکستان او یا هند ته ولاړ نشی ځکه دا دوی ته بی عزتی ده. او ددی سره هم موافق نه یم چی ځینی مخور شخصیتونه برسیرنی ټولنیزی اړیکی د ټولنی د ژورو تولیدی او اقتصادی اړیکو څخه لیری او جلا شیی. دا کسان به دوی ستونزی لری. یا خو به د اپیستمولوژیکی کره کتنی څخه لوڅ لغړل وی او ددی دوو مهمو مسلو جاج به نشی اخیستلی
او یا خو به هم په دی ټیټي کره کتنی د ټولنی د خوارو خلکو په سپوکمو کښی آپین ور اچوی چی بیسده شی. په دواړو حالاتو کښی د هیواد د مخورو مسولیت د ځوان نسل په وړاندی ډیر دروند دی.
په حقوقی لحاظ دغه مخور شخصیتونه کوم مسولیت نه لری او هر څه یی چی زړه وغواړی ودی وایی. خو په اخلاقی لحاظ دوی ستر مسولیتونه لری او مخکی له دی نه چی خپل قلم پر سپین کاغذ را کش کړی خپلو اخلاقی مسولیتونو ته دی ځیر شی.

پای

ډاکتر یارمحمد تره کی د ۱۳۹۹ کال د لړم ۰۱


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ